د هیواد دشهیدانو ...

شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

(٤) صفحه

دريك حملهٔ مسلمانان الجزايري ٨ پوليس به هلاكت رسيد.

الجزيره ۲۰ قوس،

به اساس خبرمنتشرهٔ روزنامهٔ جنگ، مسلمانان الجزايري طي يك حمله شان بالاي پوليس ٨ نفررابه هلاكت رسانيدند.

طبق گزارش تلويزيون الجزايرپوليس گزمه‌حينيكه ايشان به قرارگاه شان مراجعت نمودند، طي حملهٔ مسلمانان الجزيري كشته شدند.

حكام الجزايري گفته اند كه ((٨)) نفر كشته شده، حين خوردن غذاي چاشت هدف حملهٔ مسلمانان قرارگرفته كشته شدند، درحاليكه دوتن ديگر زخمي گرديده است. وهكذا حكام گفته اند كه، آنها ((١١)) نفرمسلمان رابه جرم كشتن دونفر روسي درماه اكتبرگذشته گرفتارنموده بودند.

پولس كسه كشميري مبارزين په شهادت ورسيدل

نوي ډيلي : دلیندي ۱۹نیټه

دكشمير دتيرو څلورويشتو ساعتونو په جګړوكي لږترلږه څلويښت كسان ووژل شول. دنوي ډيلي څخه درارسيدلو رپوټونو سره سم دنيول شوي كشمير دپرونيوجګړو په وژل شوو كسانو كي دهندي پوځونو پنځه كسان اودكشميري مبارزينو اوه تنه شامل دي . خبر زياتوي چي سرينګرته نيږدي ديوه ماين په چاودنه كي دهندي پوځيانو څخه يو زيات شمير كسان مړه اوټپيان شول چي له‌دي نه وروسته هندي پوځونو دماين دچاودني په ځاي كي څلورتنه ملكي كسان په شهادت ورسول.

شماره مسلسل (۷۲۲) سال شانزدهم شماره (۱۱۰) يكشنبه (۲۱) قوس۱۳۷۲ هـ.ش جمادي الثاني(۲۸) جمادي الثاني ١٤١٤هـ.ق (۱۲)دسمبر ۱۹۹۳ م قيمت يك روپيه يا پنجاه افغاني

دافغانستان دوزيرانو كابيني غونډه وكړه

كابل دلیندي ۱۹ نيټه

دكابل څخه رارسيدلي رپوټونه وايي چي تيره ورځ په كابل‌كي دكابيني غونډه جوړه شوه په دغه غونډه كي چي ګن شميروزيرانو برخه درلوده فيصله يې وشوه چي يوحكم هيئات دي وټاكل شي ترڅودشوراي نظار اودحزب اسلامي دمجاهدينو ترمينځ اوربند ټينګ كړي. خبرزياتوي چي په خوله خو دمسعود وياند وويل چي دقضاياوو دحل لار جنګ نه دي اوموږ جنګ ته خاتمه وركوو خو په عمل كي به معلومه شي چي شوراي نظار دا خبره عملي كوي اوكه نه په خبركي زياته شوي چي دمسعود وياند وويل كومه فيصله چي كابيني دسولي دتامين له پاره كړيده موږ هغه استقبال كوو اوهغه وخت چي رباني په دغه فيصله نامه كي لاسليك وكړي موږ به دهغه نه پيروي وكړو.

پس ازشكست پاليسي خشونت آميز حكام الجزايري:

حكومت الجزاير، جبهه نجات اسلامي آنكشورراباه رسميت مي شناسد

الجزيره ۲۰ قوس.

به اساس منابع خبري جهان مقامات الجزايري به جبههٔ نجات اسلامي آنكشورپيشنهادنموده تاباهم دررابطه به حل مسايل مستقيماً مذاكره نمايد.

طبق گزارش جبههٔ نجات اسلامي الجزاير درانتخابات گذشته راي اكثريت رابدست آورد، ولي دراثر يك

ص٤

اعلاميهٔ مشترك مذاكرات بي نظير بوتو وزعماي ايران خواستار توقف جنگ درافغانستان شد

تهران ۱۹ قوس

علي اكبر هاشمي رفسنجاني رئيس جمهوري اسلامي ايران گفت سفر بي نظير بوتوصدراعظم پاكستان به كشور ايران مؤفقانه انجام‌پذيرفت.

موصوف افزود سفربي نظيربوتو كشورهاي ايران وپاكستان را باهم نزديك ساخت دوجانب اظهار اميدواري كردند كه تجارت جانبين به ٥۰۰ مليون دالربالغ گردد. ايشان طي اعلاميه بي سياست خارجي

ص(۳)م

درپي شكست ائتلافي هادرجنگ تگاب، مسعوداز تورن اسماعيل درخواست كمك نمود

طبق يك خبر پيام آزادي ازيك ماه گذشته به اينطرف هيئت هاي وزارت دفاع بشمول معاون وزارت دفاع چندين مرتبه به هرات سفرنموده تاتورن اسماعيل رامتقاعد به اعزام نيروي كمكي به كابل نمايند . هيئت هاي متذكره رادرتمام سفر ها ده نمايندهٔ خاص ... رباني همراهي نموده است . دراين اواخر عزيزمراد بطور مخفي وغيررسمي نيز به هرات سفرنموده بود . كه موقع برگشت طياره حامل عزيزمرادنيز بعنوان تحفه به تعداد ۳۰۰۰ فيرمرمي (آر- پي- جي ۷) بداخل سي كيسهٔ بسته شده باخود بكابل حمل نمود. وبدنبال آن هيئت ديگري به سرپرستي معاون وزارت داخله ، معاون وزارت امنيت ،رئيس ترافيك كابل وقاضي زاده

هواپيماهاي تورن اسمعيل بكابل مهمات نظامي ميرساند

نيزعازم هرات شده ورو ي موضوعات اعزام نيروبه كابل صحبت هاي نموده اند، هرچند كه تاكنون تورن اسمٰعيل بدرخواست اعزام نيروبه كابل موافقت نموده اما درهرهفته چندين پروازازطياره هاي نظامي مهمات وسلاح بكابل انتقال مي دهند ضمناً هيئت هاي متذكره درتلويزيون هرات عليه حزب اسلامي سخنرانيهاي خصمانه نموده اند. امامردم هرات خواهان حكومت اسلامي واشتراك فعال حزب اسلامي درامور اداري منطقهٔ خود وكابل ميباشند.

وهمچنين مردم متدين هرات ازينكه نيروهايي به اصطلاح دولتي آنها رادرجنگ هاي خارج ولايت هرات سوق ميدهند بكلي ناراض بوده ويا اين عمل مخالفت مينمايند.

عبدالكريم خليلي وزيرماليه بعدازسفرايران:

تكت پرواز كابل-تهران از ۳۲٥ دالربه ۲۰۰ دالر تقليل يافت

آقاي عبدالكريم خليلي وزيرماليه كه طي سفري به ايران رفته بود گفت :وظيفه داشتيم كه در رابطه با بهبود بخشيدن پرواز هاي طيارات آريانا به تهران صحبت كنيم ومسافرينيكه ازكابل به جمهوري اسلامي ايران مي روند به سهولت مسافرت كنند وهم مهاجرين ماكه علاقهٔ برگشتن به وطن شانرا دارند براي شان سهولت پيش بيايد. درين رابطه متاسفانه قبلاً پرواز ها نامنظم بود واين نامنظمي پرواز ها به خاطر قيمت تكت بود وهم مهاجر افغاني كه ازطريق هوا بايد مي آمد حدود ۳۲٥ دالر بايدمي پرداخت درحاليكه قبلاً حدود ۳۲٥ دالرمي پرداختند واين براي مهاجرين ما سنگين بود. مادراينجا بامسؤلين ايران صحبت داشتيم وقيمت تكت را ۲۰۰ دالرمشخص ساختيم ودراين رابطه توافق مسؤلين هواپيمايي كشور ايران هم لازم بود كه مسؤلين هواپيمايي كشور ايران اين مسئله راقبول كردند .وبعد پرواز ديگري رامادرمشهد تقاضاكرديم به خاطرمسافرينيكه به مشهدمي روند

ص(۲)

داسلامي كنفرانس دغړو هيوادونو استازو دسلمان رشدي په باب يوپريكړه ليك خپور كړ

جده :دلیندي ۱۹ نيټه.

داسلامي كنفرانس تنظيم دسلمان رشدي پرمرتد پيژندلواوشيطاني آياتونو دكفرنه ډك كتاب په غندنه كي په رياض كي داسلامي هيوادونو دبهرنيو چارو دوزيرانو دپريكړه ليك متن خپوركړ.

په ملګروملتونوكي داسلامي هيوادونو داستازو دغونډي رئيس په بيلابيلوليكونوكي دنوموړي مؤسسي ددوه پنځوسوغړوهيوادونو له لوري ددغه پريكړه ليك متن دملګروملتونو د غړو هيوادونو تولو نمايندګيو له پاره ولیږه په دغه پريكړه ليك كي دسلمان رشدي اوشيطاني آياتو په باب په رياض كي د ۱۹۸۹ ميلادي كال داسلامي هيوادونو دپريكړه ليك متن هم درج شويدي.

حاجي فريد رئيس هيئت نمايندگي حزب اسلامي دركنفرانس جنبش هاي اسلامي دنيامنعقده خرطوم :

اجتماع سودان بعنوان حل نهايي معضلات افغانستان، براستعفاي مشترك رئيس دولت وصدراعظم تاكيدبعمل آورد



هيئت نمايندگي جمعيت برخلاف شوراي نظار خواهان توقف جنگ وحصول توافق باحزب اسلامي بود .

كنفرانس سازمانها وتنظيم هاي اسلامي دنيا كه باشركت (٥۰۰) نماينده از (٦۰) كشور دنيا درخرطوم روز ۱۰ قوس شروع شده بود ،بروز ١٤ قوس پايان يافت درين كنفرانس روي مسايل اهم دنياي اسلام بحث ومذاكره صورت گرفت.

درين گردهمايي ازطرف تنظيم هاي اسلامي افغانستان نيز وفودي به كنفرانس رفته بودند وحاجي فريد سكرترحزب اسلامي درين مجمع رياست هيئت حزب اسلامي راداشت اعضاي ديگر هيئت استاد سعيد ومحترم نواب سليم بودند . حاجي صاحب فريد به خبرنگارشهادت گفت : برعلاوه نمايندگان حزب ، ازطرف جمعيت صديق - چكري - ،شاداب وحسين شاه، ازطرف حركت انقلاب

ص(۳)

ښځه كولاى شي چي داسلامي شريعت په رڼاكي كار، علم اوزده كړه وكړي

مولوي جليل الله مولوي زاده

كابل دلیندي ۲۰ مه

دافغانستان دښوونې اوروزني وزيرمحترم مولوي جليل الله مولوي زاده دهغي آوازي په باب چي په كابل كي پدي وروستيو ورځوكي خپره شوي اويكي ويل شوي چي دمجاهدينو حكومت ښځي دفترونوته دكاركولو او په پوهنتونونوكي دتحصيل كولو نه منع كړي ده،بي ،بي ،سي خبريال ته وويل :ځرنګه چي تاسوته معلومه ده زموږ نظر نه بلكي دټولو مجاهدينو اوداسلامي حكومت نظر دښځو دتعليم په باره كي هغه نظر دي چي اسلام هغه نظرلري اوداسلام نظر دادي چي دښځو دتعليم له پاره محدوديت نشته .

يوه ښځه كيداي شي چي حافظ دقرآن كريم وي ، كيداي شي چي دير علوم لاس ته راوړي ليكن هغه شرايط اوضوابط چي شريعت او اسلام ورته ايښي چي په ديرو ضوابطو باندي ښځه كولي شي تعليمات وكړي .

٤ مخ

دنظارشورا له خواپه ولسي خلكو دبمباري لړي دوام لري

كابل : دلیندي ۱۹ مه نيټه

دسروبي اوتګاب ښارونو باندي دائتلافي ځواكونو دالوتكو بمباري دوام لري .په رارسيدلورپوټونو كي ويل كيږي چي دتيري ورځي په بمباري كي د ائتلافي ځواكونو الوتكو دخوشه يې بمونو له غورځولو څخه كاراخستي . رارسيدلي رپوټونه وايي چي

٤ مخ

لايحه جديد براي مجازات مجرمين درامريكاترتيب ميشود.

كلنتن از ازديادتشدد درامريكابه تشويش است

واشنگتن ۲۰ قوس:

مقامات پوليس به روز پنجشنبه در۳٥ شهرامريكاطي خطابه ي گفته اند: كه مردم امريكا از لت وكوب ،تشدد وعدم تحفظ جان ومال به تنگ آمده اند. پوليس به نقل از رئيس جمهور امريكاگفته است كه وي جهت ختم تشدد وبربريت در امريكاآماده، هرگونه همكاري است .كلنتن گفته است كه لازم است تاكانگرس دررابطه به مجرمين لايحهٔ شديدي رامنظور نمايد.

دافغانستان دپلان وزارت يوعاجل دوه كلن پروګرام جوړكړي دي

كابل دلیندي ۱۹ نيټه .

دافغانستان دپلان دوزارت مرستيال سلطان حسين تيره شپه دامريكاغږراديو سره په مركه كي وويل چي دغه وزارت دملګروملتو د پرمختيايي اداري په مرسته دافغانستان دبياودانولو دچارو دپرمخ بيوولو له پاره يوعاجل دوه كلن پروګرام جوړكړي دي.

ددغه وزارت مامورين اودملګروملتو متخصصين همدااوس دافغانستان په بياودانولو كي دافغانستان دبياودانو لو دپاره داوږدي مودي دپلان په جوړولو بوخت دي. ده زياته كړه :كوم مهم كارچي دپلان په وزارت كي دملګروملتو دانكشافي پروګرام افغاني اوبين المللي ماهرانو په مرسته تر سره شوي هغه دافغانستان دبيا ودانولو دچارو يودوه كلن پروګرام دي چي دافغانستان دبيا ودانولو دعاجل پروګرام په نامه يادېږي . ده دنړيوالو خيريه مؤسسو اودافغاني غيردولتي خيريه مؤسسو نقش ډير مهم وګڼه اوويي ويل چي ددغو موافقونقش دقدرداني وړدي . ده وويل چي بهرنيو خيريه موسسو له پاره يوكړنلاره ترتيب شوي چي دجمهوري رياست دمنظوري نه وروسته به عملي شي. دي چي داكتوبربه مياشت كي ديوهيئات سره المان ته تللي وو دالمان

۳مخ

دايران په مرستو باربوه الوتكه افغانستان ته وليږل شوه

تهران دلیندي ۱۹ نيټه

دافغانستان خلكوته دايران دبشردوستانه مرستويه دوام كي دافغانستان دمهاجرينو د استفادي له پاره تودوونكي وسايل ،پوشاك اودخوراكي مواد و يوه الوتكه دغه هيواد ته لاره.دافغانستان نه دملاتړ دكميټي مسؤل وويل چي دافغانستان دمسلمانو خلكو ضروري اړتياووته په پاملرني سره څه دپاسه يوسل اواويا كارتنه كتابونه هم ددغي الوتكي په وسيله ليږل شويدي.

چي ټول په مختلفو ژبو ليكل شوي.

####

بنام خدايكه ... مهربان ونهايت باوحم است

دملي وحدت سمبول ... ؟!

پرله پسي څو څوځله كيږي چي دجمهوررئيس وياند داخبره تكراروي چي استاد رباني دملي وحدت سمبول دي ، اوكه نوموړي استعفي وكړي نوزيات مشكلات به راپيښ شي.

دمراد دغه خبره اويه تاكيد سره په هغې اصراركول په حقيقت كي داسي اخطاردي چي ملت ته يې دهيواد دتجزيې دخطر په حيث وراندي كوي اوداسي ښيي چي ګواكي يابه استاد رباني اوائتلافي انډيوالان يې عمري په واك كي پاتي كيږي اويا به هيواد دتجزيې خطر قبلوي له دي پرته دمراد له خبرو څخه بل هيڅ خطر دسړي په ذهن كي نه راځي ،مراد غواړي پدي ملت ووارګړي خوحقيقت اوواقعيت دمراد ددي خبري سره نه يوازي هيڅ اړخ نه لګوي پرته له دي چي دائتلافيونو لجاجت په ګوته كړي او ائتلاف نور هم پسي رسوا اودخلكو دخنداشي بل څه نه تري سود كيږي.

اول خوداچي افغاني ولسونه داسي يوپربل كي پيبلي اويوله بل سره يې په تفاهم كي ژوند تيركړي چي هيڅوك نشي كولاي دشومو اغراضو لامله يې يوله بل سره بيل كړي اونه ملت دومره كمزوري اوناپوه دي چي دځوجګړه مارو،قدرت ته تږو اوتوطيو كوونكو د دسيسو ښكارشي اويا يې په اخطارونو وغوليږي.

دويم داچي استاد رباني خودومره كمزوري اوبي صلاحيته رئيس دي چي دافغانستان په تاريخ كي څه چي دودنياپه تاريخ كي يې ساري نه دي ليدل شوي . ملت داپه سترګو ويني چي استاد رباني څومره واك لري ؟ هغه خولږترلږه د شوراي نظار دقوماندان له اجازي پرته په اصطلاح چاي نه شي څورلاي او نه له كوټي څخه وتلاي شي بيا دهغه په تلو څخه تغير راتلاي شي ؟

ملت دابه ويني او محسوسوي ، چي تعهد اوتوافق استاد رباني لاسليك كري خو چي كله مسعود اوائتلافي انډيوالانو يې ورته چپ كتلي نو له لاسليك څخه هم پښيمانه شوي ، دتګاب ددي رواني جګړي په ترڅ كي داستاد رباني له خوادمولاناذاكري ، دپوهنتون داستادانو ، دكابيني دغړو اوداسلامي تحريكونو داتحاديې دعمومي منشي دوكتورحسن ترابي له خواوړاندي شوو سوله ايزو طرحو دلاسليكولو اووروسته دمسعود له خوادهغوردولړيښني هغه څه دي چي داستاد رباني صلاحيت اواغيزمنتيا ښه په ډاګه كوي اوملت ته دا ښه جوته كيږي چي دهغه موجوديت اونه موجوديت څه معنالري ؟ استاد ،پرته له دي چي دمسعود اوكمونستانو دائتلاف په مخ يوه پرده‌اوداتلاف دوحدت سمبول كراي شي بل څه پري مرتب نه دي اوهغوي دي چي استاد رباني له كاره ګوښه كيدوته نه پريږدي‌ځكه دهمده تريږدي لاندي توطيې ښې غزولاي شي خو موږوايو چي استاد رباني بايد ديو اسلامي تنظيم دمشر اوديومسلمان په حيث دملي وحدت دسمبول په بې مفهومه لقبونو ونه غوليږي او له دغه بې صلاحيته واكمني څخه چي پرته له بدنامي څخه بل څه نه دي ځان خلاص كړي ،خپل ځان دنورو دشومو غرضونو د ترسره كيدو آله اووسيله ونه ګرځوي په ابروسره دمحترم صدراعظم وروروحكمتيار وراندېزته لبيك ووايي ،له كاره ګوښه اودټولو جهادي مشرانو په تفاهم سره داسي حكومت جوړكړي چي وكولاي شي ملي اسلامي اردو جوړه اودانتخاباتو لپاره لاره آواره كړي.

سخن روز

راه حل بحران افغانستان !

تاثیر

محترم آیت الله محسني رهبر حرکت اسلامي افغانستان طي مصاحبه یي بارادیو بي بي سي ابراز داشته است.
که حدود هفتاد فیصد ازمشکلات موجود راجنگ هاي حزب اسلامي وجمعیت اسلامي درمملکت مابوجود آورده است. اگر آقایان رباني ،حکمتیار ومسعود اختیارات شانرا به هیئتي بسپارند وآنچه این هیئت فیصله نمود بپذیرند هفتاد درصد مشکلات افغانستان حل میگردد.
براستي ،زماني انسان به مسایل مربوط به افغانستان ازکسي بپرسد عمدتاً جواب محترم آیت الله محسني رادر مي یابد وفوراً عامل اصلي همین سه تن ازافراد نامبرده قلمداد مي شوند . ولي باید دانست که اولاً ما این جنگ را جنگ بین حزب اسلامي وجمعیت اسلامي نمي دانیم بلکه این جنگ ازطرف ائتلافیون برحزب اسلامي تحمیل شده و تنها این سه تن نیستند که جریان سیاسي افغانستان را بکام خویش بچرخانند وعوامل دیگري درکارنباشند، فکرمي شود که قضیه افغانستان تنها باگرفتن اختیار از آن سه تن حل نخواهد شد وصرف همین سه تن هم نیستند که درادامه مشکلات تشریك مساعي دارند ویا بیرون کردن پاي آنها ازقضیه همه معضلات حل وفصل شود و دیگر اوضاع به وفق مراد به پیش رود،قبل از همه لازم است که اصل عوامل این قضیه را دریافت وآنراازبین برد ، تامسئله حل شود.

شاهدیم که، پس از سقوط رژیم کمونیزم صفوف مجاهدین وکمونستها یکنوع اختلاط یافت وجمعیت اسلامي بریك ائتلاف نامیمون وضد منافع ملت دست یازید.
وبخاطر دستیابي بقدرت سند برائت رابه دشمنان ملت که همان خونخواران خلق وپرچم بودند تقدیم کردکه امروز بیشترین نقش راکمونستها درائتلاف دارند تا جمعیت اسلامي ، همانها اندکه براي ادامه جنگ وخونریزي برنامه مي ریزند و جبهات را گرم نگهمیدارند، دراین راستا ،بمباردمانهاي وحشیانه وغیر انساني طیارات جیت آنها مثال عمده است که درتگاب ،لغمان وسروبي باعث تلفات سنگین اهالي وویراني آبادي هاشده است.
پس به اینصورت گرفتن اختیار از آقایون نامبرده براي حل مشکل کافي نیست وباید مساعدت عمومي مجاهدین ور به انزواکشیدن کمونستها و بیرون آوردن جمعیت اسلامي اززیر بال ائتلاف صورت پذیرد زیرا جمعیت اسلامي ورهبرانش بخصوص استاد رباني حجابي بر روي زشتي هاي کمونستهاست وباموجودیت جمعیت اسلامي درپهلوي کمونستهاوضعیت ازین بدترشده ،بهترنمي گردد.
بالفرض ،اگرگشایش عقدهٔ موجودکه روزانه صدها نفررابه کام مرگ مي برد، ملت ما رابه عزانشانده،وده ها مؤسسه اجتماعي را مشوش ساخته است،به دست آقایان مذکور بازگردد ودیگران درآن سهمي نداشته باشند پس منظمه هاي جهادي سهیم دردولت چه نقشي رادارند که درموقع تقسیم تحایف وانعامات دست درازترداشته وبه اندازه حزب اسلامي وجمعیت اسلامي سهم میخواهند؟! لزوماً ،باید نقش خودرا در ترد و دفع بحران فعلي روشن نموده وابتکارراپدست گیرند وبااستفاده ازاثر ورسوخ خویش براي صلح تلاش ورزند.
حال برین تنظیم هاي جهادیکه از جمله اراکین دولت اند،میباشد که درصدد یك جبههٔ قوي ، نیرومند،مستحکم وواحد بوده ودر برابر جناحیکه درتعهدات خود سرکشي مي کند اقدام مقتضي نمایند.
متاسفانه که تاکنون این تنظیم ها نقش خودرا نشناخته وطوریکه لازم است دررفع مشکلات ملت کوشش بخرج نداده اند وگاه بصورت انفرادي اقدامي غیرمؤثر ومقطعي نموده اند.
اساس کارشانرامنافع شخصي ویاتنظیمي شان تشکیل داده است.
این تنظیم ها زماني میتوانند داراي نقش مؤثر باشند که ارتباط شان باحزب اسلامي و ائتلاف که شاخهٔ از آنراجمعیت اسلامي تشکیل مي دهد بریده باشند. وموضع خالص اسلامي رااتخاذ نموده ودر تغیرجریان ازدل وجان بکوشند وبحیث یك جناح سوم ومتحد داخل میدان شوند.
این تنظیم ها موقف اسلامي گرفته درمقابل متخلف عمل قاطع نمایند.
ودرحل بحران کنوني دین خود راااداکنند بابعباره دیگر تنظیمهاییکه خود را آلوده دربحران نمیدانند پس از پیدایش وحدت نظرجانب ملامت وسلامت راتشخیص داده وبادرنظر داشت اصول اسلامي دررفع مشکل بپردازند.
اگررهبران دیگرتنظیم هاي جهادي به امید این بنشینند که اختیارازسه تن نامبرده گرفته شود وبعداً به اصلاح بپردازند ویا این باورخود رابرائت دهند به کارمستحیل دست یازیده اند زیرا هرگز کسي به رضایت‌اختیارخود رابدیگري نمیدهد وباید ازآن گرفته شود که این ممکن نیست جز بانیروقوت. چنانچه مولوئ ذاکري دراقدام خود براي صلح درتگاب نتوانست نظر موافق احمدشاه مسعود قوماندان شوراي نظاررابدست آوردوبه جواب منفي قوماندان مذکورمواجه گردید،به همین قسم هرهیئت صلح باداشتن موقعیت ضعیف به ناکامي مواجه خواهد بود. بناءً هرهیئت صلح راست که از موقعیت قویتر اقدام نماید تابتواند طرف ملامت رابسرکوب و طرف سلامت رایاري بخشد.

دائتلاف درسوایي آخري شیبې

یاسرعلي "نیازي"

داسلام اومسلمانانو پرضد چي په نړیوال ډګر دامریکایي سنګبلاك له خواکوم سازش بدرګه کیده ، اوبیا چي پدي وروستیو کي داسلامي هیوادونو دارتجاعي حکومتونو په تغافل اوغوړنه ګرولو کوم مقام ته ورسیده داسي فکر کیده ،چي دکمونیستانو اورباني اومسعود خاینانه ایتلاف ددغي شیطاني لړي ډبوي کړي شکل اخیستي ، اوپدي پاب مصر اونوروهیوادونو ته درباني سفر اودځینو لویدیځ پالو سره یي مشوري اوتړونونه زموږدځګندوونو یوښکاره ثبوت دي ، خوپدي وروستیو کي چي ائتلاف لهحزب اسلامي سره کومو جنګونو ته لاس واچاو اوبیا یي چي مجاهدملت پرکومه تګلاره خپله کړه په یقیني ډول داهغه روښ و چي د ایتلاف دبشپړي اوسختي ناامیدي کیسي یي کولي . ځکه لویدیځ پدي پوه شو چي که ایتلاف هرڅومره اکمال شي ، په افغانستان کي له اسلامي تحریك سره نشي جنګیدلي بله داچي ایتلاف په جنګونو اوپاپه نورو ډیپلوماتیکي کړنلاروکي دومره تنازلات کوي ، چي هیڅوك یي هم دملاتړ توان نه لري ، او نه یي په افغانستان کي کوم مستقبل پیش بیني کیدلي شي ، له همدي کبله مور. ګورو ،چي لویدیځ دایتلاف په باب شکمن اوبدګومانه ښکاري . ځکه لویدیځ سنګبلاك چي په افغانستان کي دکومو شیطاني دسیسو کنښت وکرکوي ،هغه به ډیر مرموز اودسازش له لاري وي ، کیدي شي ، داسلامي حکومت

اواسلامي تحریك پرضد دغه پروژه څوکاله اوږدواتن ولري ، چي ایتلاف یي دپلي کولو اومقدماتو له پاره تش یوتکتیك وي . خو پرسیاسي اوجهادي ډګر به دومره داسلامي تحریك پر مختګ کله بهرني دښمن ته داجرات ورکړي ،چي په مقابل کي یومشکوك اومجاهد ملت په وړاندي منفوره تولګه ترخپلي لمني لاندي وساتي . که په ایتلاف کي دیرګنو اومجاهدملت په اړوند کومه متره وي نوحزب اسلامي دي پرسیاسي اوپوځي ډګر چیلنج کړي . ایتلاف برغل وکړي ،خودحزب مجاهدینو بیا دومره خغلولي وي ، چي په ټوله دنیاکي رسواشي ، اوترټولو بده لا داچي په الوتکو پسي کلي اوجوماتونه وران کړي ، اوخپله پوزه بنه پسي غوڅه کړي .او باداچي دحزب امیر په څرګنده ملت ته وایي ،چي زه استعفي ته تیاریم ، خورباني دي هم مستعفي اوانتخابات دي تضمین شي . مګر ددغي ډیر مهم سوال په ځواب کي ایتلاف بس همدومره تکلیف ګالي ،چي استاذ رباني دحل وعقد دنامتلي اومنفوري شورا منتخب دي ، نوپدي ډول یي داستعفي اړتیا نه لیدل کیږي .وګوري ! نامقدس ایتلاف څه ډول استدلال کوي ! ایاپردي دوګماتیزم به هغه مجاهد ملت وغولوي ،چي یوه نیمه لسیزه یي له سري امپراتوري سره ډغري ووهلي اواخریي راتسکور کړه ،اوکه هغه بهود پالی لویدیځ به تیر باسي ،چي بي غرضه له چاسره یوه پښه هم نه ږدي.
جوته ده ،چي نورڅوك نشي غولولي ،اوپدي وروستیوکي دسروبي دمسکو ني سیمو بي رحمانه بمباري ثابته کړه ،چي ایتلاف دخپل مخلوع اونامراده سلف "ببرك" پرپله تللي ،او دبقاهیله یي نشته . لویدیځ مجبوردي ،چي دمجاهدملت دسخت قهراوغضب له کبله نوره له ایتلاف نه خپله لمن راټوله کړي، چي نببي نښاني یي په زرغونیدو دي .
همداډول همدااوس دهیواد دصدراعظم په مشري دکابینې درنه غونډه اوله روس سره دافغانیو دچاپولو دتړون سرته رسیدل اونوربي ورسره قسخه کول په حقیقت کي یوداسي ګام دي ،چي ډیر ژربه دایتلافي واکمني شپي او ورځي دشمارکړي ،اوکه کابینه خپله همدغه پریکړه جدي ونیسي ، نوپدي صورت کي دوه ډوله حساسي ګټي لاس ته راتلي شي . له یوي خو ا دکمونیستي رژیم دتړونونو بطلان ، دپولي تورم مخه نیول اودملت داقتصادملاراتینګول . خو له بل اړخه به له خاین ایتلاف نه دافغانیو دبي ځایه واردولو ، د قوماندانانو داخیستلو اوبي موجبه اوغیر ملي مصارفو فرصت واخیستل شي ، اوکه دغه حربه بریالي شي ، نوزموږبه عقیده نوربه ایتلاف کي دهیڅ کوم مقاومت ځواك نه لیدل کیږي .کمونیستان خو هغه خاین ماتي خوړلي قشر دي ،چي هیڅ اتکا پري نشي کیدلي ، او نه بیا په ښکاره کوم جرائت کولي شي .
له دغي ګردو داخلي اوبهرني شکستونو سره نور ایتلاف ته دخلاصون کومه لاره نده پاتي.
له دي پرته چي جنګ ته لمن ووهي ،اوپه یوه نه یوه بهانه دجنګ اوربل کړي . زموږمجاهد ملت به دحزب اسلامي دوپاند وروستي وضاحت ته غور کړي وي ،چي ایتلافي ځواکونو دخپلو الوتکو په وسیله خپل قوتونه د لته بند پر لوروېلي کړیدي ،ترڅو له دي خوادحزب اکمالاتي لاري ترکنترول لاندي راولي، خوداچي شکست دایتلاف مقدردي ،اوخامخا به ماتي خوري ، ځکه دغه سیمي دحزب دقوتونو تر بشپړي اداري لاندي دي ،بیله خبره ده،اصلي مطلب دادي ،چي ایتلاف بوځل بیا جنګ له ولایاتونه مرکز ته نقلول غواړي ځکه دولایاتو تجربه ورته دومره په زړه پوري تمامه نه شوه . ایتلاف غواړي یوځل بیا په کابل کي دجنګ اوربل کړي ، اوپدي توګه دخپلو پرله پسي ماتو انتقام له بي وزله ولس نه واخلي.ایتلاف ولي جنګ غواړي ،اوپرجنګ اتکاکوي؟ ددي پوښتني ځواب ساده اوڅرګند دي . دایتلاف اسکلیټ له کمونیستانونه جوړدي ،اوکمونیستان پوهیږي ،چي که مجاهدملت له جنګ نه لږه ساه اوحوصله هم واخلي ، خامخا به دملي مجرمینو په نامه ددوي محاکمه پیل کوي. نو ځکه ورته له سولي نه جنګ ښه دي. ځکه دجنګ مړینه هم دمحاکمي له مرګ نه پتمنه وي ، نو ترڅو چي خودخواه اوخپلسري مسعود وي ،ترهغه به کمونیستان مرکزیت لري ،چي دکمونستانو له وجود سره جنګ اوزرګونه نورفجایع تړلي دي . اوس نودادرښتیانیو مجاهدینو کاردي. چي څه ډول به دمجاهد ملت برخلیك له کافرانه تاراکونو نه بچ کوي ، اوکه نور هم له کوم تغافل نه کاراخلي ، نو لیري نده ،چي دخپل حماسه زیږوونکي جهاد ویاړونه له لاسه ورکړي، اودخپلو شهیدانو وینې پخپل لاس ضایع کړي.
دغور اوافسوس حالت خو دادي ،چي ایتلافي رژیم نه یواځې دا چي دسروبي دکلوپه بمباري ونه شرمیده بلکي دابمباري په پرله پسي ډول همداسي دوام لري ، اوترټولو بده لا داچي غنچه یي بمونه له الوتکو نه غورځوي ، چي ټول زیان یي ولسونو ته رسیږي .په همدي اساس به زموږمجاهدولس دبي بي سي له رادیو نه دجمعیت دیوه نماینده توضیحات اوریدلي وي ،چي دا جنك به ترهغي جاري وي ، ترڅو نغلواوسروبي دجمعیت لاس ته ورنشي .اوس نوپدي کي دتعجب کوم ځاي ندي پاتي ، ایتلاف چي د جهان بیني عینکي یي دکمونیستانو پرسترګو دي اوله همدغي نظره افغانستان ته ګوري ، بس هرڅه دخپلي اداري لاندي غواړي .دوي یواځي حزب اسلامي نه بلکي ټول مخلص مجاهدین نشي زغملي ،اوپه حتمي ډول به ورته یوه بهانه لټوي ، اوس نو څرګنده شوه ،چي څوك جنګ غواړي اوڅوك سوله ؟

#####

آیاراستي هم استاد رباني سمبول وحدت ویکپارچگي ملي کشور است!؟

فایق

هموطنان مسلمان ومتدین مادرجریان هستند که زعامت حزب اسلامي بمنظور خاتمه وپایان یافتن همیشگي درگیري هاي گروهي که به اثرآن کشور مابیشتراز پیش به سوي قهقرا وزوال کشانیده خواهدشد، طرح استعفاي رئیس دولت ،صدراعظم واعضاي کابینه راپیشنهاد نموده درعوض خواهان تشکیل حکومت مؤقتي شده است که تحت اشراف وسرپرستي آن درکشور انتخابات آزاد ، عادلانه ومنصفانه برگزار گردیده صلاحیت اداره امور مملکت به نمایندگان برحق وقانوني ملت محول گردد.
دربرابر این اقتراح جامع واصولي حزب اداره ائتلافي کابل نه تنها پاسخ مثبت ومعقول ارایه ننموده بلکه باکمال دیده درایي سخنگویان ادارهٔ مزبور به زعم واهي خویش استاد رباني راسمبول وحدت ملي کشور قلمداد نموده براي قانوني جلوه دادن تسلط وي !! به جفنگ گویي وهرزه سرایي پناه بردند.
آقاي عزیز "مراد" نطاق استاد رباني که تا هنوز باچندین منظمه جهادي !! خیانت وجفا کرده وبخاطر دست یابي به منافع منحط مادي پهلوي هیچکسي راگرم نگهنداشته است هتچون عروسك هاي کوکي وبي اراده شام وسحر ازطریق رسانه هاي خبر پراګني غرب (بي بي سي وصداي امریکا) گلوپاره نموده ،میخواهد بدین ترتیب به اداره ائتلافي خوش خدمتي کرده چند پول وپیسه افزونترکمایي نماید.
حقیقت آنست که استاد رباني بخاطر رسیدن به کرسي اقتدار چنان اشتباهاتیرا مرتکب شده است که سالها وقت میطلبد تا آنرابتوان حل نموده باردیگر کشور را به سوي یگانگي ووحدت ملي سوق داد . قبل از آنکه زعماي جمعیت وشوراي نظاربا بقایاي رژیم منفورگذشته در" چهارم" ثور۱۳۷۱ در جبل السراج با هم معاهده دوستي وهمکاري !! را امضانمایند برهمگان هویداست.که مجاهدین مسلمان افغانستان فقط یك شعار را زمزمه میکردند که آن عبارت بود از تحقق حکومت عدل اسلامي وسرنگوني بقایاي تجاوز ازکشور. اما ناعاقبت اندیشي وحرص جنون آمیز رهبران جمعیت بمنظور کسب اقتدار وسیطره به ارگ شاهي !! وحدت ملي کشور ماراکلاً زبان رسانیده مجاهدین را به جان هم انداخت.
پیش ازآنکه استاد رباني به کرسي ریاست جمهوري رویایي اش نصب گردد هیچگاه موضوع شمالي ،جنوبي ،مشرقي و ... برسرزبانها نبود واحدي هم با این اصطلاح نامأنوس آشنایي نداشت اماهمینکه معاهده ننگین جبل السراج جامه عمل پوشید وآقاي رباني دوان دوان روانه کابل گردید از همان روز به بعد مسایل ستم نژادي ، اعطاي حقوق اقلیت هاي ساکن افغانستان ،موضوع شمال جنوب و ... برسرزبانها جریانپیدانمود وزنگ هاي خطراز هم پاشي وحدت ملي کشور ما به صدادرآمد.
فعلاً باهرجمعیتي وشوراي نظاري !! که سرسخن بکشایي اولین حرفش همین است که ده ها سال پشتونها درافغانستان حکومت کردند. وحالانوبت حاکمیت ما فرارسیده است ،پس حالا خوانندگان خود قضاوت نمایند چهره یي که مسبب بوجود آمدن یك چنین اندیشه سخیف وبدور ازاسلامیت باشد، آیا مي توان آنرابه عنوان سمبول وحدت ویکپارچگي ملي کشور پذیرفت !؟ گذشته از ین که فراخواندن به سوي عصبیت هاي قومي ،نژادي و ... یك القاوتحرك شیطاني است وآنرا اسلام مردود مي شمارد، کسیکه برانگیزنده وعامل ایجاد همچون اندیشه بي باشد به یقین اودرزمره دشمنان تمامیت ارضي وحاکمیت ملي کشور به شمارمي رود.
تاقبل از زمام داري استاد رباني!! (دوران جهاد) کمترشنیده بودیم که در ولایات جنوبي ومشرقي نائره جنگ هاي گروهي شعله ورگردیده عده یي رابه کام مرگ ونیستي

فروبرده باشد ولي از برکت ریاست جمهوري جناب استاد ! وتراوشات فکري ناپلیون وتیورسن امورنظامي !! جناب مسعود همه دیدیم که آتش جنگ وبرادرکشي به ولایات جنوبي ،مشرقي و...نیز سرایت نموده مردم مسلمان وبیدفاع این سامان هم از سوي آنان (اداره ائتلافي) به خاك وخون کشانیده شدند.
همین حالا هیچ ولایتي راسراغ کرده نمي توانیم که درنتیجه توزیع بانکنوت هاي بي پشتوانه سردمداران اداره ائتلافي وبه کارگماریدن واستخدام عده یي اوباش وچپاول گراز سوي آنان ،حالت نورمال وعادي داشته باشد ومردم واهالي آن بدون دلهره وهراس شب شان روز گردد.
آیاکسي که به چنین اعمال قبیح وزشت ملوث وآلوده باشد مي توان آنراسمبول وحدت ملي کشورمحسوب نموده مخلص ودلسوز قلمدادش نمود؟!
اگرهدف آقاي عزیز "مراد"از انتساب سمبول وحدت ملي کشور این باشد که دربرخي ازنقاط کشور ،عده یي مزدوروچاکر منش به نفع حکومت ائتلافي کابل سپاهي نموده اهالي آنجا رابه خاك وخون میکشانند ،بایدملتفت باشد که ارسال بوجي هاي پول است که آنها را وادار به همدستي بااداره ائتلافي کابل کرده است. هرگاه این سلسله (ارسال بي حساب پول) انقطاع پیداکند باز همه شاهد خواهند بود که پلان هاي تخریبي گردانندگان ادارهٔ ائتلافي درهیچ نقطهٔ افغانستان کارگر واقع نخواهدشد.
هستند تعداد یکه رقابت هاي محیطي وبعضاً هجوم وپاي فقر وتنگدستي آنان رابه همکاري بااداره ائتلافي مجبور ساخته است امایقیناً زمانیکه اداره امورکشور بدست افراد صالح ونمایندگان برحق وقانوني ملت سپرده شود ومجراهاي خصوصي تمویل اداره ائتلافي با دول بیروني منقطع گردد ، مسلماً همه اقشارملت درشاهراه همدلي ویکرنگي گامزن شده به سوي آینده هاي شگوفان وتعالي وترقي رهنمون خواهند شد.
اگر ازحقیقت دورنشویم کارکردمنفي وناعاقبت اندیشانهٔ گردانندگان ادارهٔ ائتلافي کابل آنست که طراحان ومجریان آن بایدبه میز محاکمه کشانیده شده دربرابر خیانت هاوجفاهائیکه درحق ملت مسلمان افغانستان انجام داده اند موردبازپرس قراربگیرند.
بدون شك باکناره گیري استاد رباني ازپست ریاست جمهوري وسپردن اداره کشور به یك حکومت مؤقت قابل قبول براي همه گروهاي جهادي وانعقاد انتخابات آزاد تحت سرپرستي واشراف همین حکومت بسیاري ازنابسامانيهاومعضلاتي که اکنون ملت مادرآن گیرمانده اند حل وفصل خواهد شد.
اگر استاد رباني به سخنان چاپلوسانه عزیز "مراد" وامثالش دل خوش کند ودرهواي بقاي قدرتش دست به غائلات دیگري بزند درآنصورت امید دست یابي به یك طرح جامع و معقول که کشور راازحالت کنوني بدرآورد بعید جلوه مي کند .بهترآنست که استاد رباني از عملکرد هاي گذشته خود نادم وپشیمان گردیده بخاطرکسب رضاي خدا (ج) وتأمین امنیت سرتاسري درکشور ازمقام وجایگهٔ خود استعفي داده به تشکیل حکومت مؤقت قابل قبول براي همه توافق نماید.
باورکامل داریم که باادامه درگیري ها نه تنها جناب استاد ویاورانش به اهداف مورد نظر شان دست نخواهند یافت بلکه بیشتراز گذشته در پیشگاه خدا (ج) شرمساروددرسطح ملي وبین المللي بدنام وتذلیل خواهند شد.

تکت پرواز کابل...

ومهاجرینیکه درمشهد هستند مي خواهند به وطن بیایند واین پرواز را هم مسؤلین جمهوري اسلامي ایران قبول کردند.
فعلاً دیگر کدام مسئله صورت نگرفت ولي باوزارت خارجه جمهوري اسلامي ایران صحبت کردیم . آنها به ما وعده دادند که مهاجرینیکه ازتهران ومشهد ازطریق طیاره به کابل برگردند وازین سهولت استفاده کنند آنها پاسپورت هم بایدنداشته باشند. باید به ورق خروجي همانطوریکه ازمرزهاي زمیني خارج مي شوند ازمرزهاي هوایي هم میتوانند خارج وداخل افغانستان شوند.
واین مسئله را ماباآنها صحبت کردیم وبه توافق رسیدیم وبزودي یك هیئت کارشناس ما به خاطرپرواز مشهد درآنجامي رود وبعد پرواز ها آغازخواهد شد ومسئلهٔ تهران از حالا جنبهٔ عملي خواهد گرفت مشکل دیگري نداریم قیمت تکت کابل - تهران یکطرفه حدود ۲۰۰ دالروقیمت تکت کابل -مشهد حدود ۱۵۰ دالر یاکم ترخواهد بود واین سهولتي بود که مابراي مهاجرین خود پیش آوردیم .
امید واریم که مهاجرین ازاین سهولت استفاده کنند.

په موراوپلاربانديٰ داولاد حقوق

محمدعابد "منصور"

په ماشوم باندي دترحم اوعاطفي حق:
دابوحقیقت دي چي الله (ج) دوالدینوزړونه فطرتاً داسي خلق کړيدي چي له اولادسره مینه اومحبت ساتي اودوالدینو ټول نفسي مشاعردماشوم ساتني اودهغه دټولو امورواهتمام په جهت کي هلي ځلي کوي ،اولوي حکمت هم ورکي دادي چي الله تعالي په دغه توگه سره چي ترکومه پوري غواړي انساني نوعي ته بقاء او دوام ورکړي، په دي خاطروالدین دخپل اولادپه نسبت دهرزحمت او تکلیف زغملوته چمتواوداولاد دټولو کړاوونوپه وړاندي دصبراوتحمل څخه کاراخلي اودهغوي دژوندانه دچاروکفالت په غاړه اخستل ورباندي څه بوج نوي ، اودروزني اونوروصالحولپاره ئي اوږه ورته کوي، په دي ترتیب له فطري غوښتني څخه علاوه اسلامي شریعت دوالدینووجیبه بولي اودهغوي په ذمه باندي حق وراچوي چي پخپل اولاد باندي رحیم او زړه سوانده واوسیږي په دي هکله دحضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دي چي فرمایي: (رسول الله «ص » یوځلي امام حسن ابن علي (رض) په داسي حال کي ښکل کړ چي اقرع ابن حابس التیمي ورسره ناست و نوهغه رسول الله (ص) ته وویل : زمالس اولادونه دي چي له هغوي څخه مي یوهم ندي ښکل کړي، رسول الله ورته وویل : (څوك چي په چارحم ونکړي په هغه به رحم ونشي)له دغه مبارك حدیث څخه ثابتیږي چي مسلمان باید رحیم واوسیږي ولي دحدیث خاص مورد په وجه ښئي چي موراوپلارپه اولاد باندي ترزیاتونه زیات ترحم اوعاطفه ولري ، همدغه رازام المؤمنین حضرت عایشه رضي الله عنهافرمایي : چي رسول الله (ص) ته یوصحرائي راغي اوورته ئي وویل : آیاتاسوماشومان ښکلوئ ؟ اومونږخوئي نه ښکلوونورسول الله (ص) ورته وویل: « آیاستاپه هلکه زماداقدرت شته چي الله(ج) ستا له زړه څخه ترحم لیري کړي دي» معناداچي زړونوته درحمت اوعاطفي ورکول دخداي (ج) ورکړه ده چي چاته وغواړي هغه ته بي ورکوي، اودوالدینو له لوري دخپل ماشوم ښکلول اوله هغه سره دمیني محبت اظهارکول دترحم اوعاطفي لویه نښه ، اوپرېښول ئي دقساوت اوسخت زړیتوب څخه څرگند ونه کوي .

په ماشوم باندي دحضرت رسول الله (ص) شفقت تردي پوري ؤ چي حتي دلمانځه په مینځ مینځکي ئي هم دهغوي مراعات اوخاطرساتنه کوله ، عبدالله ابن شداد فرمائي : یوځله رسول الله له خلکوسره لمونځ کولو چي دسجدي په حالت کي ناڅاپه درسول الله (ص) په غاړه باندي حضرت امام حسین (رض) ورجگ شو، اوسجده ترهغه پري وځنډیده چي خلکوفکروکړچي کومه پیښه شویده ، ځکه چي لمونځ اداشوتوخلکودسجدي دطوالت تپوس وکړ، نورسول الله ورته وویل: دغه زما بچي زماپه شاباندي راجگ شو، نومادانه ویلله چي بیړه ونکړم ترڅوهغه خپله غوښتنه ترسره کړي اوخپل مطلب ته ورسیږي، رسول الله دشارع په توگه دخداي (ج) سره د رازاونیاز په حالت کي اوبیا خاصتاً دسجدي په حالت کي چي دلمانځه په ارکانوکي خاص اهمیت لري دخپل بچي هغه لاشعوري غوښتني ته په درنه سترگه گوري اوفرصت ورته ورکوي . چي خپل مطلب ترسره کړي . حضرت رسول الله له ماشومانوسره نه تنهاپه راشه درشه کي ورسره لطف اوشفقت درلودبلکه دهغوي لپاره ئي درحمت دعاکوله لکه چي حضرت اسامه رضي الله عنه فرمائي : رسول الله صلي الله علیه وسلم به زه اوامام حسن (رض) پخپله غیږکي کښینولواوبیابه ئي دواړه ځانته جوخت کړلو اوبیابه ئي ویلي : (خدایه په دوي باندي رحم وکړه ځکه یقیناً زه په دوي باندي رحم کونکي یم).

